نظرمحمد مطمئن
۲۰۱۸/۰۵/۲۱

# د راتلونکو ټاکنو تت او تیاره انځور

د ۲۰۰۴ کال ولسمشریزې ټاکنې په بشپړ ډول د امن فضاء کې تر سره شوې، او د توقوع پر خلاف ډیرو خلکو پکې برخه واخیستله. ولې د ۲۰۰۹ کال ټاکنې ډیرې نا امنه او خونړې پیښې وشوې، د مخکیني ولسمشر حامد کرزي او ډاکټر عبدالله تر منځ نانډریو زور واخیست، او د نړیوالې ټولنې ځینو هیوادونو هڅه کوله چې ډاکټر عبدالله واک ته ورسیږي.

د ۲۰۱۴ کال ولسمشریزې ټاکنې په بشپړ ډول تیروتنه وه، مورږ د ۲۰۱۰ کال ولسی جرګې او ۲۰۰۹ کال ولسمشریزو له فساد ډکو ټاکنو تجربه مخکې درلودله، بل داچې دا تجربه هم وشوه چې ټاکنې د افغان جګړې د حل لاره نه ده، په کار وه چې د ۲۰۱۴ کال ټاکنو پر ځاى د داسې حکومت لپاره کار شوى واى چې افغان شموله او سولې ته د رسیدو څرک پکې لیدل کیداى.

که ټاکنې د افغان کشالې د حل لاره وې، بیا خو ښه ده چې په قوت سره خلک پکې برخه واخلې، که د ټاکنو د لارې مورږ سولې ته رسیدلاى شو، بیا باید په ټاکنو کې خلک په قوت سره برخه واخلې، ولې تیرو تجربو وښودله چې نه یوازې د حل او سولې ته رسیدو لاره نه ده، بلکې پراخ فساد پکې کیږي. او د ټاکنو پر مهال هر نوماند د سولې شعار مخکې کوي، سوله د سیاست قرباني کوي.

اوس چې د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره نوم لیکنه جریان لري، او د نوم لیکنې بهیر کې د خلکو ګډون ډیر کم رنګه دی، ځکه افغان ولس په ټاکنو باور د لاسه ورکړی دی.

تیر ځل چې د ۲۰۱۴ کال ولسمشریزې ټاکنې وشوې، هغوی چې د خپلو مرو جسدونه یې په کور کې پټ وساتل او د ټاکنو مرکز ته ولاړل خپلې رایې یې وکارولې، هغوی چې د خپلو مرو فاتحې اخیستل یې وځنډول او د رایې ورکولو مرکزونو ته ولاړ، هغوی چې د رایې ورکولو له امله یې د لاسونو ګوتې پرې شوې، هغوی چې له بهر څخه د خپلې رایې د حق کارولو لپاره راغلل، د ټولو رایې هدر او په سپکه ورته وکتل شول، هغوی چې ډاکټر غني ته یې رایه ورکړې وه چې ولسمشر شي، او هغوی چې ډاکټر عبدالله ته یې رایه ورکړې وه چې ولسمشر شي، د هیچا رایې ته د هغه د حق په سترګه ونه کتل شول، پایله دا چې د هغه وخت د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري د ډاکټر عبدالله او ډاکټر غنی ترمنځ د ګډ حکومت جوړولو پریکړه وکړه، او دواړو د خپلو خلکو د رایو سره جفا وکړه.

دا چې ټاکنې د سولې بدیل نه دی، او ټاکنې په لوی لاس بحران لور ته رواني دي، ځینې لاملونه یې داسي ښکاري چې امریکا او افغان حکومت هم د ټاکنو لپاره منظم پلان نه لري، او ځینې کړی په لوی لاس هڅه کوي چې ټاکنې بحراني شي، پرته له دې چې طالبان یې مزاحمت وکړي، په کور دننه د ټاکنو لپاره د بحراني کیدو کمپاین روان دی، ولې د بحراني کیدو پیره به بیا هم افغان حکومت او نړیوال پر طالبانو ور اچوي.

۱ - مخکې له دې چې د ۲۰۱۸ کال د ولسي جرګې د ټاکنو وخت د ټاکنو کمیسون لخوا اعلان شي، په بېلابېلو وختونو کې د ځینې بېلابېلو حکومت پلوه آدرسونو څخه دا خبره ډنډوره کېدله چې طالبان به دا ځل ټاکنې تحریم کړي، او دا به طالبان په خپله ګټه وبولي. په لوی لاس د ټاکنو مقابل کې د طالبانو هڅولو ته هڅه کیدله.

۲ – د ولسي جرګې ټاکنو لپاره د نوم لیکنې لپاره دوه میاشتې وخت ورکول شوی وو، په داسي حال کې چې پر تذکرو به سټیکر هم نښلول کیږي، چې دومره لنډ وخت کې نوم لیکنه شوني نه ښکاري. که څه هم وروسته وخت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

یوه میاشت تمدید او کیدای شي نور هم تمدید شي، خو لومړی ځل دوه میاشتي اعلان په دی معنی چي د ټاکنو لپاره سم پلان او هوډ شتون نه درلود.
۳ – په ټاکنو کي د نوم لیکني کم رنګه ګډون اړوند د ډاکټر غني او ډاکټر عبدالله څرګندوني چي په خپلو څرګندونو کي یي روښانه کړه چي د خلکو ګډون د نوم لیکني پروسي کي کم دی، د دوی څرګندونو پر ولس نور هم منفي اغیز وکړ، په کار وه چي دوی دا ډول وضاحت نه وای کړی، بلکي خلک یي باید هڅولي وای، او د نوم لیکني پروسه یي سمه او کامیابه ښودلي وای.
۴ – د نوم لیکني لپاره یي د تذکرو لپاره ستیکر اړین وګڼه، خو لږ وروسته یي د بریښنایي تذکرو د ویش لړی د ډاکټر غني لخوا پیل او د اجرائیه مشر ډاکټر عبدالله له خوا یي مخالفت وشو. که رښتیا هم د بریښنایي تذکرو د ویش هوډ دوی درلود، باید د نوم لیکني د بهیر سره سم یي د تذکرو ویش پیل کړی وای، او په تذکرو د ستیکر لګولو اړتیا به هم نه لیدل کېدلای.
۵ – د ټاکنو د خپلواک کمیسون او ټاکنو د شکایتونو د کمیسون مهمو غړو د دارلانشاء رئیسانو استعفی، ځکه چي د حکومت لخوا یادو کمیسونو ته لارښوونه شوې وه چي د تذکرو په کاپي باندي د ستیګر نښلول ومني، او د دواړو کمیسونو د دارالانشاء رئیسانو او دوو نورو غړو یي مخالفت وکړ.
۵ – په کابل او ځینو ولایتونو کي د نامعلومو وسلوالو لخوا د ټاکنو پر مرکزونو بریدونه، داسي بریدونه چي ډېره مرګ ژوبله له ځان سره لري.
پورته او ځینو نورو مواردو ته په کتلو داسي ښکاري چي د ټاکنو لپاره رڼه تګلاره شتون نه لري، دا ټاکني به بحراني کیږي، جنجالي کیږي به او بیا به د ۲۰۱۹ ز کال ولسمشریزو ټاکنو لاره ډب کیږي، تر څو نړیوال او افغان سیاستوال د اوسني حکومت پر اوږدیدو غور وکړي. د اوسني حکومت چاروکي به هم هڅه کوي چي د خپلي واکمنی د ۵ نورو کلنو د دوام لپاره پرته له ټاکنو کومه لاره پیدا کړي.
د فبروري ۶مه ۲۰۱۸، مسیر ورځپاڼي راپور ورکړ: " امریکا غواړي له ولسمشریزو ټاکنو پرته د ګډ حکومت موده پنځه کاله نوره اوږده کړي. د همدې فورمول د تطبیق لپاره مهمو امریکایي استازو د تېر جهاد له ځینو مشرانو او سیاسي مخکښانو سره لیدلي دي.
امریکایانو دوی ته ویلي، چي غواړي «قیادي شورا» جوړه کړي او همدا شورا به د دوی د فورمول تائید او له تطبیق سره به یي سره خوځوي.
ورځپاڼه کاږي، امریکایانو له پخواني ولسمشر حامد کرزي، عبدالرب رسول سیاف، ګلبدین حکمتیار، انوارالحق احدي، کریم خلیلي، حامد ګیلاني او ځینو نورو مشرانو سره لیدلي دي.
امریکایانو دوی ته د دې هوکړي په بدل کي لوی امتیازات منلي، خو له یادو کسانو ځینو انکار کړی او ځینو ورسره په مشروط ډول د هو سر ښورولی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ